غ. حضرت ۲۰۱۸/۰۲/۰۵

# آیا د ډاکټر نجیب ستاینه یو نجیبانه کار دی؟

څو ورځې مخکې د بی. بی. سی. (چه زه سخته کرکه ترې لرم) لخوا کوم راپور د نجیب په هکله خپور سوی او د ځینو وبسایټونو لخوا اقتباس سوی او خپور شوی ؤ.

مخکې لدې چه پدې هکله خپل یو وړوکی عرض وړاندی کړم، د نجیب د خواخوږو څخه احترامانه او خاضعانه هیله لرم چه د وچو احساساتو پنجه بوکس او خنجر ته لاس ور وانه چوی او اجازه راکی چه زه څه .... خورم. دا یو مسلّم حقیقت دی چه په اصطلاح د چا نیکه د بل چا د خوښې یا کرکی په وړاندی د سلیقې او علاقې د بدلون توان نلری او نه باید د بدلون هڅی په هره بیه چه وی تر سره شی.

نجیب یو تکړه هنرمند او یا تکړه ورزش کار او یا کوم تکړه علمی شخص نه ؤ چه د ستاینی یا غندنی په هکله ئې د سپین سترګیو او لجاجت څخه خالی بحثونه وشی، د یو هنرمند یا ورزش کار سره قلبی علاقه د هرچا شخصی سلیقه ده، په زر او زور هیڅ څوک نشی کولای چه خپله سلیقه پر کوم علاقه مند باندی تحمیل کړی.

زموږ یو معلم ؤ، همیشه به ئې ویل چه: "کوم چا یو راډیو پلورنکی ته وویل چه داسی راډیو غواړم چه د استاد اولمیر سندری نه پکښی واورېدلی شی".

اوس که راډیو پلورنکی د اولمیر خُسر هم وای حق ئې نه درلود چه د راډیو رانیوونکی ته خبمېدلی وای ځکه دا د هغه د سلیقې په وړاندی یو خنډ او مزاحمت او حتی د هغه پر حقوقو تېرئ ګڼل کېدی.

که دا ومنل شی چه نجیب یو هنرمند او ورزش کار نه ؤ (چه نه ؤ) بلکه د یو لکی داره سیاسی – اجتماعی – حزبی - فکری پېچلی او حتی ویرانوونکی او ویجاړوونکی سناریو یو لوبغاړی ؤ نو معنی به ئې داوی چه د ډول ډول وګړو په روحیاتو کی ډول ډول دریځ درلودلای شی.

دلته یوه ډېره مهمه خبره باید له پام نه لیری نه وی هغه دا چه باید تثبیت شی چه نجیب د کومی سناریو او کومی لوبی لوبغاړی ؤ، بله دا چه د یو مطرح سیاسی شخص د شخصیت ټول ابعاد (څه عمودی څه افقی او څه ښکاره او څه پټ او څه ظاهری او څه باطنی او څه اجباری او څه اختیاری) په دقیقه توګه وڅېړل شی.

هغه غولوونکی ملغلری!!!! چه نجیب د حاکمیت په وروستیو میاشتو کی تر خولې را ایستلې ټولی ئې د خپلی عقیدې او افکارو خلاف وی، نجیب د خلق د دموکراتیک ګوند



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

(البته دلته زه د گوند د څرنګوالی په هکله بحث نکوم) د پرچم د جناح یو مطرح او تکړه غړی ؤ، سوسیالیزم او حتی مارکسیزم- لینیزم ته سخت مؤمن او وفادار ؤ، که خلق او پرچم یو بل تر ستوني نه وای سره نیولای او پرچمیان له همهغه اول څخه تر پایه په قدرت کی شریک وای، د نجیب اخلاقو او روحیاتو ته په پاملرنی سره، هغه به د انقلاب!!! د تحکیم په لیاره کی د مظلومو افغانانو ډیری بدی وینی توی کړی وای، لکه څنګه چه ئې د خاد د ریاست په وخت کی وینی توی کړې.

نجیب د ملی او ملیتی عُرف د جوهر څخه بیگانه ؤ. په ملی - وطنی مسائلو کی د قوم او ژبی پر اساس تبعیض یو حرام او ناروا کار دی خو خپل قوم او ټبر او فرهنګ ته په سپکه سترګه کتل اصلاً وطن ته د سپکاوی په معنی ده، نجیب په عین حال کی چه د مارکسیستی افکارو په رڼا!!! کی انترناسیونالیزم ته تر ناسیونالیزم وفادار ؤ او یا ئې ریاکارانه داسی ښودله چه وفادار دی خو د خپلو ګوندی اهدافو او مشر ورور (اتحاد شوروی) د ګټو د تأمین په خاطر ئې هغی ترخې ډرامې ته لاس ور اچولی ؤ چه بل هیڅ ګوندی او حزبی د هغه جرئت نه درلود پدې معنی چه د ګلیم جم (چه یوه غیر پښتنی مجموعه وه) په واسطه ئې د افغان ولس بل مظلوم ملیت یعنی پښتون بد وټکاوه. زما هدف د پښتون د احساساتو تحریک او هڅونه نده بلکه غواړم په ډک او ژړونی ستونی دا فریاد تر خوله راوباسم چه هغه وخت زه (پښتون) بیده وم او نجیب می تر ګریوان نه ونیو خو اوس د یو پښتون!!! پتوګه د بی. بی. سی. د تلبیسی تبصرو قربانی یم او د نجیب پر سرنوشت ژاړم!!!!!

لږ غوندی انصاف هم ښه دی.

بله خبره چه د نجیب د ننی ستاینی !!! په هکله د پاملرنی وړ ده داده چه:

خلقیان اصلاً د هغه د عدم موجودیت حسرت په زړه کی نلری ځکه د پرچمیانو سره ابدی دښمنی لری.

پرچمیان هم ځو ډلی دی چه فقط یوه معدوده ډله ئې د نجیب سره خواخوږی درلوده او لری ئې او دا چه نن ورځ د نجیب تمثال ته ځینی خلګ درناوی لری علت یې دادی:

نجیب د محتضر او ساه ورکوونکی او اعدام کېدونکی انقلاب!! وارث ؤ، شوروی هم د احتضار په حال کی ؤ، نجیب د شوروی د جیب د خیرو په زور غوښتل انقلاب نه بلکه حکومت او د حکومت بدنه سالمه وساتی، ددې سلامتی د تداوم لپاره ئې لومړی د انقلاب پر ستونی پښه کېښوده او د ثور د انقلاب !!! د ټولو شعارونو څخه (چه البته له اولی ورځی د بطلان پر تېږه ولاړ وه) منکر شو او په دوهم قدم کی ئې د کابل او نورو ښارونو غیر ګوندی اشخاص (تعداد ئې کم نه ؤ او اکثره ښه خلګ هم وه) د حکومت پر بدنه پینه کړه او ګوندیان تقریباً د کلیدی مقامونو څخه لیری شوه او ځای ئې نورو تکنوکراتانو ونیوی، کله چه د هغوی خولې د قدرت او مقام په خوږو خوږې شوې د جیب خیری هم تمامی شوې، دولتی بودجې او اقتصاد سقوط وکړ، مشر لالا (شوروی) زما ځوی هم خړه وکښه او خپله سره وشلېدی وبخښی وسپوخېدی او کابل پاتی شو او د سناریو د وروستنیو برخو عملی کېده.

بناءً د نجیب ثناګویان همهغه غیر ګوندی اشخاص دی چه د نجیب په وروستیو کی ئې وطن ته د خدمت نیت درلود، چه البته ......

بله خبره چه یادونه ئې بده نده دا چه:

اولاً دا ډېره د تعجب خبره ده چه تره کی هم ووژل شو، امین هم ووژل شو او ببرک هم تقریباً ووژل شو یا وشړل شو او نجیب هم ووژل شو، که د خواخوږی او همدردئ او زړه سوی خبره وی نو باید د نجیب خواخوږی پر دې نورو درو هم د ارمان اوښکی توی کی ولی ئې یوازی پر نجیب تویوی؟ آیا نجیب د همهغه ایدیولوژی او همهغه قُلابی انقلاب بچی نه ؤ؟ نا ممکنه وه چه د انقلاب د مرگ سره د نجیب مرگ نه وای تړلی.

دا چه نجیب پدې ډول ووژل شو، د خواشینی ځای دی، نه د نجیب په خاطر بلکه دا ډول وژنه د انسانی کرامت خلاف کار دی چه هیله مند یو بل ځل د هیڅ افغان او انسان په حق کی تکرار نشی.

ثانیاً زه خپله د طالب طرفدار نه یم، کله چه طالب کندهار ونیوی ما ډېر سخت وژړل او د خپل وطن سیاهی می حس کړه خو د نجیب په وژلو لږ غوندی خوښ شوم ځکه هغه د غوائی د ځلورو پښو څخه یوه وروستی پښه وه خو دا می نه منل چه د نجیب وژل به د طالب خپل مستقل تصمیم وی یا د پاکستانیانو تصمیم وی، کله چه ما د شهنواز تنی ځرگندونی د نجیب په وړاندی د ناکامی کودتاه وروسته واورېدې او کله چه می د نجیب ځرگندونی د تنی په هکله واورېدې او کله چه می ولیده چه شهنواز تنی یو رندئ غوندی سرترپایه د پنجاب په خدمت کی حاضر شو او د خپلو خدمتونو اجوره او غوښتنه ئې فقط دا وه چه د طالب په صفونو کی دا امکان ورته برابر شی چه خپل د لېونی انتقام نه کنترول کېدونکی لمبې د نجیب په وژلو مړې او آرامی کی او همداسی هم وشوه، شهنواز تنی د طالب په صف کی ځای او خپل شخصی او احساسی ماموریت ئې د ملل متحد په دفتر کی تر سره کړ. بناءً هیله ده چه د نجیب خواخوږی خپل د فریادونو توپونه د انقلاب د بلی سوځلی مُهرې یعنی شهنواز تنی سنگر ته توجیه کاندی.

وروستئ عرض می دا چه:

راسی چه په گډه ددې نااهلو ژوندو کډه ور سمباله کړو او د سړی زامن تړې جوړ کو چه وطن ته مو خدمت وکی، مړه او وژل سوی به پرېږدو خپل حال ته. د مړو په عکسونو او یادونو او تبصرو او توجیهاتو زموږ ژوندو یوه نړئ ستونزی نه حلیږی، هم تېر، مرگ دی او هم راتلونکی، مرگ دی، هغه څه چه مهم دی د نن ورځی د حالاتو سمون دی.